سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۵/۲۰

# که ښاغلی حکمتیار

## د سولی د راتلو د پاره مؤثر کار کوی نو......!

پوره (۱۲۴) کاله کیږی چی د لوی افغانستان له وجود نه دوخت د انګریزی استعمار د زور زیاتی په نتیجه کی د مارتیمر ډیورنډ د طرحی په اساس د پښتنو د خاوری یوه ستره برخه بیله او د هند په برطانوی دولت پوری و تړله شوه. وروسته بیا د همدی استعماری طاقت د راتلونکو شومو پلانونو د تطبیق په منظور د پاکستان په نوم یو ناپاک دولت په (۱۹۴۷ ع) کال کی جوړ شو او بی له دی چی د پښتنو نه پوښتنه وشی د دوی سیمه هم د همدی ناپاک دولت په حدودو کی ور ګډه شوه. د امریکا په شمول ډیرو نورو هیوادونو هم د د هندوستان او د افغانستان د وجود نه ، دا نوی را جوړ شوی دولت په همدی ننني حدوداتو کی په رسمیت و پیژانده او د دنیا د نقشی په مخ نوی را ځرګند شو. دا د افغانستان له وجود نه د ډیورنډ لاین د فرضی کرښی په واسطه بیله شوی برخه نه افغان ملت او نه د افغان دولت هیڅ زمامدار تر ننه پوری په رسمیت پیژندلی او نه به یی و پیژنی، خو حقیقت دادی چی عملاً په زور سره اوس د پښتنو په دی جغرافیه باندی د پاکستان پنجابی حکمرانان واک او کنترول لری.

د (۱۳۵۷ ش) کال د ثور د کود تا او خصوصاً د (۱۳۵۸ ش) کال کی د وخت د شوروی اتحاد د نظامی یرغل نه ورووسته، په میلیونونو افغانان د همدی کرښی نه تیرشول او هلته یی لویه برخه د پښتنو په جغرافیه کی میشته شول، خو د اولی ورځی نه وربāندی د مهاجرو نوم کیښودل شو او د دوی د کنترول او اداری ټولی چاری (د تنظیمونو تر جوړیدو پوری ) د پاکستانی مامورینولاس ته ور ولویدی.

خبره به را لنډه کړو. تر ننه پوری زمونږ په میلیونونو افغانان په همدی خاوره کی پراته دی او د پاکستان د دولت تر سختو شکنجو او کړاوونو لاندی شپی ورځی تیروی او د دوی ماشومان اولادونه د پاکستان د دیوبندی ملایانو په ذریعه د مغز پریمنځلو په مرکزونو کی روزل کیږی او د تخریبی اعمالو او ترهګریزو حملو د پاره افغانستان ته را لیږل کیږی.

همدا نن ورځ د کویټی د ښار نه را نیولی تر د کراچی پوری هم په کمپونو، هم په ښاری کالونیو او هم په کلیو کی پرتو مهاجرو افغانانو سره یو ډول چلند کیږی او ټول په خپل غصب شوی ملک کی د پردیو په څیر د تحقیر او توهین لاندی دی. شاید ډیر لاملونه به وی چی په افغانستان کی د سولی د راتلو په لار کی خنډ جوړیږی، خو زما په اند په دی ټولو لاملونو کی، لوی لامل په پاکستان او ایران کی د بی سر نوشته پرتو مهاجرو شتون دی. په دی هیوادونو کی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

دا پراته مهاجر په افغانستان کی د بی ثباتی او د سولی د نه راتللو د پاره د یوی ورځی نه بلی ته د نوو ستونزو د را منځ ته کیدو سبب کیږی.

د ایران دولت خو د دی مجبورو مهاجرو او لادونه په هر ځای کی چی یی زړه غوښتی وی د ګرمو جنګونو جبهو ته استوی او یای په خپل ملک کی دننه په هسی شاقه او غیر انسانی کارو بوختوی چی د دوی اولادونه یی د کولو توان نه لری. خو په پاکستان کی خبره بیخی بل ډول ده. پاکستان په هرو دوه کلونو کی یو کرت په مهاجرو پسی د ویستلو کوتکونه را اخلی او داسی د شور او زوږ نه یوه ډکه هنګامه جوړوی چی : دی مهاجرو زمونږ امنیت خراب کړیدی، دی مهاجرو د مونږ نه کارونه اخستی دی، دی مهاجرو زمونږ چاپیریال ناولی کړیدی، دی مهاجرو د غیر قانونی کړو وړو ته لاره پرانستی ده او همدارنګه په لسګونو نوری داسی اوازی او ډنډوری جوړوی چی د نړیوالو خصوصاً د ملګرو ملتونو د موسسی پام ورته را اړوی او بیا د مهاجرو د چارو د تنظیم د پاره له دی نړیوالو ادارو او خیریه مؤسسو نه پیسی تر د لاسه کوی او بیا وای چی د راتلونکی کال تر دی وخته پوری ورته دلته د اوسیدلو اجازه ورکړله شوه، دا ډرامه هر کال تکراریږی. خو حقیقت دادی چی دوی هیڅکله نه غواړی چی دا مهاجر چی د دوی د لاس لاندی ژوند کوی او په هره بڼه چی یی غوښتی وی په هماغه توګه تری ګټه اخلی او خپله باداری پری کوی، د لاسه ورکړی. په اقتصادی لحاظ دا مهاجر هغه د عوامو خبره دوی ته دلنګی غوا حیثیت لری، په سیاسی لحاظ دا مهاجر د پاکستان د نړیوال اعتبار د لوړ تیا د پاره یوه ډیره مؤثره اله ده او په نظامی لحاظ د همدی مهاجرو د مغز پریمنځل شوو اولادونو د استعمال په ذریعه د خپلو حریفانو (هند او افغانستان) په وړاندی کار اخلی او د ګر مو جګړو نه نیولی بیا تر تروریستی اعمالو پوری په دی هیوادونو کی نارامی ته لمن وهی.

ما څوموده مخکی په یوه لیکنه کی په دی هکله خبری کړی وی چی که ښاغلی حکمتیار د سولی د عالی شورا مشر شی کیداشی چی د سولی پروسه بریالي شی. زه اوس هم په همدی باور یم. خو د دی تر څنګ له بده مرغه د طالبانو د سقوط نه وروسته نه د حامد کرزی په دیارلس کلنه واکداریٓ کی دی مهمی او حیاتی موضوع (د مهاجرو بیرته را ستنیدلو) ته، سره له دی چی د نوو فسادونو د جوړیدو د پاره د مهاجرو د چارو وزارت د پریمانه بودجی په لرلو سره هم جوړشوی، څه ګټور ګام پورته نه شو او نه د محمد اشرف غنی او عبدالله عبدالله د ملی یووالی د زمامداری په دی تیره موده کی دی امر ته توجه وشوه.

اوس چی ښاغلی حکمتیار د سولی د پروسی سره را یوځای شو او په خپلو ټولو بیانو او مرکو کی یی د سولی د تامین د پاره د هلو ځلو ژمنه هم کړیده، دا به ډیر په ځای او ګټور اقدام وی چی که ښاغلی حکمتیار ورته په کلکه توجه وکړی چی ټول هغه چاینلونه په کار واچوی چی وطن ته د مهاجرو د را ستنیدو سره مرسته کولی شی.

زه په دی باور یم چی که زمونږ له وطن نه مهاجر افغانان ورونه د پاکستان او ایران له ملکونو څخه په خیر سره بیرته خپل وطن او ټاټوبی ته را ستانه شی، د افغانی منلو کودونو او نرخونو په تطبیق سره به په دی وطن کی هم د سولی پروسه بریالی شی، هم به دایمی ثبات را منځ ته شی او هم به افغانان د یوه واحد ملت د جوړیدو په لاره کی چټک پر مختګ وکړی. او که دا کار ونه شی او افغان مهاجر بیرته خپل وطن ته را ونه ګرځی نه دلته سوله راتلی شی، نه امن جوړیدای شی او نه به یو واحد افغان ملت جوړ شی.

په اخر کی هیله ده چی ټول هغه سیاسی، ملی، روحانی، او قومی شخصیتونه چی د ښاغلی حکمتیار او یا د اسلامی ګوند د نورو لوړ رتبه کدرونو سره اړیکی لری، د مشورو او د موجوده دولت سره د دی موضوع په هکله د خبرو اترو له مخی په یو داسی پلان باندی کار وکړی چی په روانو حالاتو کی د عملی کیدو امکانات ولری. دا کار به د سولی د راتلو د پاره تر بل هر کارنه، که خدای ج کول ښه نتیجه ور کړی. د یوه واحد افغان ملت د جوړیدو په هیله. کلیوال